

تړمې او ښکې
اقبال همدرد خټک

# ترمي اوښکي

شپه وه شوګيره وه ستا يادونه وو

ځکه مي په مخ دَ ترمو اوښکو بارانونا وو

ليکوال:

ساقت ويير انجنير اقبال همدرد ختک

کتاب نوم : ترمې اوښکې

شاعر : سافټ وئير انجنئير اقبال همدرد خټک

خورونکې : احمدآباد ادبي ټولنه

دَ چاپ کال : اګست، ۲۰۱۰

کمپوزر : اقبال همدرد خټک

بيعه : ملګرو ته ډالئ

آن لائن موندلو درك : humdard101@yahoo.com

## يو خبره

د کتاب ټول حقوق د لیکوال سره دي ـ دا کتاب کارولو نه مخکې لیکوال سره تماس نیول ضروري دی۔ بې تپوسه کارولو باندے لیکوال خپل قانوني حق کاروی شی۔

اقبال همدرد

## تړون

د خپل خوار اولس ناقرار ژوند په نوم چې زهٔ ورته

کتے نهٔ شم

# پیژندګلو

وائي پټ به پټ پاتې نۀ شي چې خاورو لاندې نۀ شي۔ آخرکار دَ ملګرو په اصرار اقبال همدرد دَ خپلو خيالاتو نه پرده اوچته کړه۔

اقبال همدرد چې پورا نوم ئې محمد اقبال دے او په قلمي نوم په همدرد پيژندلے کيږي۔ په وړوکوالي کښې خپلون خپلوانون به دَ مينې نه نبي ورتا ويل۔ دا دې وجې نه دَ ډيرو حلقون دَ ګمان وو چې دا دوې اصلي نامه اقبال نبي ده۔ همدرد صاحب په کال ۱۹۸۳ کښې دَ فرورۍ په مياشت احمدآباد کلي کښې محله لعل خونې کښې دَ صوبيدار شربت خان مرحوم په کور کښې سترګې غړولې دې۔او په قوم خټك او دَ پيدائش ضلع ئې کرك بللے شي۔همدرد صيب په ۱۹۹۹ کښې دَ ګورنمنټ هائي سکول احمدآباد نه سائنس سره ميټرك په فرسټ ډويژن او تهرډ پوزيشن سره پاس کړو۔نو بيا دَ کمپيوټر تعليم دَ پاره اسلام آباد ته لاړو۔هلته نه ئې آئي سي ايس په کال ۲۰۰۱ کښې په فرسټ ډويژن سره پاس کړو۔ بيائې دَ کرك پوسټ ګريجويټ کالج نه بي ايس سي کمپيوټر سائنس کښې په فرسټ ډويژن او په تهرډ پوزيشن سره اوکړه۔ بيا ئې ايم سي ايس دَ کوهاټ يونيورسټئ نه په کال ۲۰۰٦ کښې په فرسټ ډويژن سره مکمل کړو۔لنړا دَ چې همدرد صاحب په تعليمي ميدان کښې فرسټ ډويژنر دے۔دا دې نه دا هم معلوميږي چې همدرد صيب دَ کمپيوټر تعليم سره ډير شوق وو۔ دا وجه وه چې شپږ کاله مسلسل ئې کمپيوټر کښې مهارت حاصل کړو نن هغه په ملټي نيشنل کمپنئ کښې دَ سنيئر سافټ وئير انجنيرخدمات ترسرهکوې۔

همدرد صحب دَ شاعرئ سره مينه دَ وړوکوالي نه وه۔ په هغه وخت کښې به ئې دَ نورو شاعرانو کلام په شوق سره لوستلو۔خو په خپله ئې دَ ليکلو همت نۀ وو پيدا شوے۔په نهم جمات کښې ئې ړومبئ غزل دَ رياضئ سبق سره په نفرت کښې ليکلې وو۔

هغې نه پس ئې باقائده په فورټهـ ائير کښې ليکل شروع کړل۔ چې هغې ثبوت نن ستاسو په لاس کښې دې۔چې څۀ فراغت ورته ملاو دې دَ ادب خدمت ئې کړې دے۔ نن زۀ دا وايم چې همدرد صاحب که ملاتړ اوشو نو هغه به ډيرې زر خواږې خواږې مجموعې زمونږ ترلاسه کړي۔خدائې دَ همدرد صاحب عمر دراز کی چې دَ پښتو ادب خدمت اوکړي۔آمين۔

شريف حسن

احمد آباد

کرك

# حمد شریف

زما څۀ حیثیت دے ، تۀ مقیم په معلیٰ ئې
بے وسه تا بنده یم ، تۀ د ټول جهان باچا ئې

نعمتونه دې راکړې بے حسابه
تازیلیږې ستا رحم له ابوابه

منم ربوبیت ستا ، تۀ په ټولو کښې اعلیٰ ئې
بے وسه تا بنده یم ، تۀ د ټول جهان باچا ئې

مور او پلار دې هم راکړې دې خدایه
خپل اغیار دې هم راکړې دې خدایه

تۀ واحد ئې لم یلد ولم یولد ئې او تنها ئې
بے وسه تا بنده یم ، تۀ د ټول جهان باچا ئې

اشرف المخلوق دې چې پیدا کړم
په ټولو کښې دې داسې ښۀ پیدا کړم

هر څومره که باغي شو بیا هم تۀ وفا وفا ئې
بے وسه تا بنده یم ، تۀ د ټول جهان باچا ئې

نن همدرد کوې سوالونه خدایه تاته
عذرونه زمونږ سم کړې لویه ذاته

دعا مې کړې قبوله تۀ سامع د هر دعا ئې
بے وسه تا بنده یم ، تۀ د ټول جهان باچا ئې

# ملګري شاعران

شاعران چې ئې عزت وو په جهان کښې
وو په زمکه خو نظر ئې وو آسمان کښې

خپل عمل ئې دَ ګفتار تابع لرلو
شك ئې نه وو په خلوص او په ایمان کښې

دَ ادب په دشت ئې کړې کر دَګلو
سرهٔ ګلونه ټوکیدلی بیابان کښې

که خوشال دے که رحمان او که حمزه دے
واړه ستورې دي ځلیږي په آسمان کښې

زهٔ که مړ وم زما نوم به دوئي سره وي
چې همدرد چیرے شامل وو ، دي کاروان کښې

# ما ته پښتانهٔ لګي

پلنې ئې سينې وې سرهٔ ئې چې مخونه وې
کلك چې په وينا کښې وې دَ ژبې دوه سرونه وې

که ژوند ورته بدل کښې خو عادت ئې نهٔ بدليږي
عادت به دَ پردوګ کوي که اغستې ئې پينټونه وې

دَ زړهٔ خبره واوري دَ بل چا خبره نهٔ مني
دوئې چائې په ټينګه غواړي که بوتلو انبارونه وې

مخ ئې ښکلې ښکارې لکه سور تازه ګلاب
چې غاښ درته ښکاره کړي دَ نسوارو پرې داغونه وې

په نوې زمانه کښې په مشين باندې ټول کار دے
په سره غرمه ئې ګوره چې په لاس ئې کدالونه وې

يو بل ته په غصه کښې چې کنزلو باندې سر وې
خبيته ئې په لاس کښې چې شلولې ګريوانونه وې

په لاس کښې ئې تسبې په خله به استغفار وائې
اوږده به ئې وې ږيره او شمله ئې ولونه ولونه وې

په يو نظر کتو ئې زما وچ زړګے تازه شې
زمونږ دَ وطن خاوره پرې آباده زمونږ زړونه دې

# حکمران

راځی خلقه ، چې راولو یو داسې حکمران
په زړهٔ کښې چې وې نرم اؤ ښهٔ روغ وې مسلمان

په زړهٔ کښې چې صادق وې اؤ انصاف ئې وې شیوه
پروا د یو شي نهٔ لري سوچا ئې وې ایمان

که وسوزې په خپله خو رڼا چې راته راوړې
په خپله د تیارو نه راتیر شوې وې په ځان

ښادئې باندې مو خاندې چې په غم باندې مو ژاړې
په هره غم ښادئې کښې وې ملگرې د انسان

د قام ملت غلاگرو ته ولاړ وې لکه غر
چې ونیسې دا کلك اؤ ترینه ډك کړې تور زندان

بیا څوك چې هم همت نهٔ شي کولې تر قیامته
چې داسې سزا ورکړې د عبرت جوړ شي نشان

آزاده پالیسې چې د عوام وې ترجمانه
ریښتونې چې تعبیر کړې هغه خواب د پاکستان

چې وباسې زمونږ د سیاست نه سپین دروغ
ریښتیا وئیل چې عام وې تل ریښتیا کوې بیان

چې امن راپیدا کړې وروړ د وروړ په معنې یوه کړې
چې زړونه مو صفا کړې هم ذهنونه مو روښان

# ﴿خټك يم ننګيالئ يم﴾

بارك که ساغرې يم
په خوئ د ازمرې يم
سيني که اکوړې يم
د خېل او د پردې يم
د خوشحال بابا نمسي يم
خټك يم ننګيالي يم

که سپوره روټۍ مي ده
په لاس کښي تخته مي ده
ښپي آبله به روان يم
نظر کښي مي کرسۍ ده
د غرونو غرسنۍ يم
خټك يم ننګيالي يم

که وچه مي ده زمکه
ده سرو سپينو نه ډکه
تيل او ګيس پکښي دي
هم مالګه ده بې شکه
د هر چا برابرئ يم
خټك يم ننګيالي يم

تجارت که مزدوري وي
يا چرته افسري وي
هر څنګه نوکري وي
خټك به ضروري وي

هر ځائي په ترقۍ يم
خټك يم ننګيالي يم
په سمه که په غر يم
د هر څۀ نه خبر يم
ښۀ بد باندي نظر کړم
روند نۀ يم سترګور يم
بيدار يمه ځلمۍ يم
خټك يم ننګيالي يم
زۀ مينه کړمه ننګ کړم
د خپلو په سر جنګ کړم
د امن په طلب کښي
غړميږمه غورزنګ کړم
همدرد چي څو ژوندۍ يم
خټك يم ننګيالي يم

# مسافر

سترګې مې که سرې دې نهٔ غصه يم نهٔ مې څښلې دې
زهٔ په بل وطن کښې مسافر يم ما ژړلې دې

دلته په صحرا کښې وچو شګو کښې لوغيږمه
هلته په وطن کښې زيږ ګلونه غوړيدلې دې

څهٔ نشم کولې زهٔ مجبور يم ورتلې نشم
زر وطن ته راشه بچو دا راته ويلې دې

لاړه شه هوا زمونږه حال په وطن اؤايه
خاورې ئې ځواني شوې په اورونو سوزيدلې دې

زما ليدو له غمه ژاړې که مړ کيږې
ښځه بال بچې مې په خدائې باندې سپارلې دې

يقين مې نهٔ شي چې به ئې بيا په مينځ کښې وخاندم
خپل دې که پردې دې ما مودو نه ټول بيللې دې

نهٔ به شي پورا همدرده که ځواني لاړه دا ستا
تا راتلو نه مخکې کرم خوبونه چې ليدلې دې

## ﴿در په در پښتنو په حقله﴾

زما په وچو شونډو بیا خانده راوله
دَ غم په تورو شپو مې سپین سبا راوله

ماشوم ژاړي خپله کهلونا لټوي
مور ئې دادا لور ئې بابا لټوي
بوډئې ګایه ګوري بزه لټوي

رنځوران ډیر شو بیا مسیحا راوله
دَ غم په تورو شپو مې سپین سبا راوله

سرتوري دَ خپل کوره بې درګه شوله
جنت په شان دنیا تري خپله ورګه شوله
دَ دنیا دي نعمتونو نه ئې کرګه شوله

ورته ښکلې دَ جنت په شان دنیا راوله
دَ غم په تورو شپو مې سپین سبا راوله

دَ ژوند لټون کښې دې په تررو غرو روان کړل
آخري وخت کښې دې بې کوره بوډاګان کړل
دَ غوښتو په قطار کښې دې ولاړ لکه بتان کړل

ربه ، ظالمانو سترګو ته حیا راوله
دَ غم په تورو شپو مې سپین سبا راوله

ښه او بد وختونا په هر چا رادرومي
تن که په تا صبا په ما رادرومي
کله په ژاړه کله به خانده رادرومي

پاسه په ځان کښې بیا حوصله راوله
دَ غم په تورو شپو مې سپین سبا راوله

په ما الزام چې زهٔ ژړا نهٔ کوم
چې مسلمان یم څنګې به دعا نه کوم
غلې سوزېږم خو لمبا نه کوم

ربه ، همدرد غونډې احساس بیا په هر چا راوله
دَ غم په تورو شپو مې سپین صبا راوله

# پښتون ته

پښتونه ، په هيواد کښې لوړه داسې دې نامه که
قومونو کښې راپاسه ، خپله جګه دې شمله که
بدل دَ خپل دښمن پښتون اخلې دستور دے
ورګه دښمنې شه ، پرېږده جوړه زمانه که
بې کوره بې ګودره در په در مو پښتانهٔ دې
مهار دَ اوښې نيسه ، سازه سمه قافله که
ټوپك توره علم قلم ته نشې رسيدلے
ټوپك په ځائې قلم سره دې جوړه يارانه که
په خپله ناوان يم په پښتون باندې ژاړېږم
خدايه دَ کمزورې همدرد لوړه حوصله که

# کرك خټك

دَ کرك خټك ژړيږي مظلومان دي
شته پلارانو کښې بې پلاره يتيمان دي

دَ سر تور په سر به لاس څوك راکاږي
پښتنو کښې پښتو نشته خاماران دي

دَ کرك دَ سيمې خاوره هم سرهٔ زر ده
بيا هم خلق ئې بې کچا غريبان دي

په تعليم کښې دغه سيمه ميړنے وه
اوس بې علمه بې هنره ختاکان دي

هر رهبر دې غولولې بيا ئې پريځي
زمونږ خلق پرې تيروزې ساده ګان دي

رحم اوکړې لويه خدايه په دې خلقو
اے همدرده نه پوهيږي جاهلان دي

# پښتون آواز

زندګي پکښې که چا ته تن صبا ګرانه ده
ماته خپله غم ځپلې پختونخوا ګرانه ده

بند به عمر تير کړم دا زمري غونډي پنجره کښې
دا ګيدړ غونډي په يرّه يوه لمحه ګرانه ده

لوړي قبلومه بې غيرتوب نه مې توبه ده
ماته غوښتو پاره بل نه لاس نيوه ګرانه ده

که اغيار مې په لاس کښې دواړه جهانونه کيږدي
په بدل کښې مې بزرګانو يوه شمله ګرانه ده

همدرده څه به ما حاصل وي ځان چې وژنم
ګڼې په ما ذې روح هم دا فاني دنيا ګرانه ده

# سپوږمئي

تهٔ سپوږمئي په توره شپه په نيم آسمان کښې چې ځليږې
په حال زما خفا ئې که دا زما پورے خانديږې
که وائې چې بے غمه دې جانان په خوب اودهٔ دے
تهٔ ئې پاګل شوې چې په غم ئې ټوله شپه ژاړيږې
تله دې رڼا کړه چې مې جانان په خوب اودهٔ دے
اومنه خبره که مې د زړهٔ په حال پوهيږې
مخ دے آئينه کړه چې پکښې ديدن د جانان وکړم
څوك څهٔ درته ويلي پاس په کور ئې که ودريږې
ځنګې درته ښکاري مړوندو کښې سپين جبين د يار
ښائست نه جوړه شوې په ښائست باندې پوهيږې
يارى که غواړې همدرده که بے منته بے ريباره
مئين بيا په سپوږمئي شه بيلتانهٔ نه که ياريږې

# غزل

مخ ئې رانه پټ کړو اؤ که ځان ئې رانه پټ کړو
داسې راښکاره شوه چې جهان ئې رانه پټ کړو

سترګې ئې بې عيبه بې قصوره دي ملګرو
زړهٔ ئې غلچکے دے چې ارمان ئې رانه پټ کړو

زړهٔ خو مې زخمي زخمي سورې ئې په ښېو وو
ښه وه چې د سرو شونډو پيزوان ئې رانه پټ کړو

احساس ورته جوړ شوے وو زړګيه د دردونو
سپرلے ئې راته وښودو خزان ئې رانه پټ کړو

مونډلے مې په ژوند کښې چې يو وارې وو همدرد
سکون ئې رانه پټ کړو اطمينان ئې رانه پټ کړو

# غزل

تنکۍ ځوانۍ نه مځکې مې ارمان وو غلې غلې
لکه ویش د ژوندانهٔ ته چې انسان وو غلې غلې
سبق د مینې مونږ ته هغې ذات ښوولې دې
چا چې لره پیدا د ا ټول جهان وو غلې غلې
ما صبر راګیر کړې وو حالاتو مجبورو کښې
ځکه وخت په زولنو کښې مې ګزران وو غلې غلې
ماته اندازه وه چې آخیر به یارانه وکړې
سترګو کښې د مینې یو پهچان وو غلې غلې
همدرد په ژوندانهٔ به بریالې ولې نهٔ وې؟
انجان د عشق په لاره چې روان وو غلې غلې

# غزل

مینه لیونتوب دے لیونے به شي
ورك به دَ خپل مخانه شي پردے به شي
زړهٔ ، دَ محبت اور نه خبر نهٔ ئې
ټول لمبه لمبه لوګے لوګے به شي
خدائې به د رنګونو موسم راولي
حرے پښتونخوا سپرلے سپرلے به شي
توره دَ خوشحال دې که رواخیسته
بیا دَ دې وختونو مرنے به شي
مهٔ وایه همدرد نه بے وفا ګلې
چرته کښې یو ځل ورته نزدے به شي

# غزل

اوښکې مې ځاځیږي هم په سترګو کښې مې نم دې
چې تا نه یمه لرې لکه ستا راسره غم دې

ستا په بیلتانهٔ کښې یوه لحظه هم نهٔ تیریږي
چې ستا په خوا کښې ومه بیا ټول عمر راته کم دې

خلق د بهار په طمع ناست وي چې به راشي
ستا راتلو سره په ما بهار هر یو موسم دې

په هر ځائې کښې ملګرے وفادار دے
دا وفا سیاهئې نه ډک مې خپل قلم دې

که ازار مې د ځُلې لاړو بے اختیاره
خلق به وائې چې همدرد پرې باندې ګرَم دې

# غزل

څوك خوشال د خپل جانان به وي كه نه؟
داسې مينه په جهان به وي كه نه؟

چې ښكاره ورته دَ خپل رنځور زړګي كړم
څوك زما د زړهٔ درمان به وي كه نه؟

حلقه ، زه يم نابلد د عشق په لاره
چرته دا مزل آسان به وي كه نه؟

په پردي وطن ځواني زما زاړه شوه
چې په خپل وطن ګذران به وي كه نه؟

په زخمي زړهٔ چې مرهم دَ همدرد كيږدي
داسې دلته څوك انسان به وي كه نه؟

# غزل

تا چې کړم یاد زما دَ سترګو نه رودونه لاړ شي
په انتظار کښې سحرونه ، ماښامونه لاړ شي
لکه باران مې په زړهٔ وواریږي
ځکه مې سترګو نه خوبونه لاړ شي
ستا محبت کښې لیونے غوندے شم
ځکه مې خلې نه آوازونه لاړ شي
دَ ژوند خوارهٔ راته تراخهٔ ښکاره شي
تاسره سم ټول اُمیدونه لاړ شي
ستا د راتلو په انتظار دے همدرد
که محکښې هر څومره وختونه لاړ شي

# غزل

رانغلې ، زهٔ وم دَ اقرار په طمعه
لکه طبیب ته وې بیمار په طمعه

یاد دې دَ سرو ګلو غونچه جانانه
په انتظار ستا دَ بهار په طمعه

تاریخ نن بیا هغسې مینه غواړي
چې اور قبول کړي دَ دیدار په طمعه

مطرب دَ خوږ زړګي نغمه چېړله
خلق وو جمعه دَ ستار په طمعه

ستا دَ دیدن په انتظار له مودو
همدرد هم ناست وو دَ قرار په طمعه

# غزل

خزان چې په راتلو شي نو ګلان په پریوتو شي
لیلې چې مخامخ شي زما زړهٔ په ریېدو شي

ترسیږم د مودو نه چې لیلې په خوا کښې کیښنم
د لرې مې چې وینې لیلې په تښتیدو شي

وړوکې شان حرکت د بې رخۍ راته څرګند شي
بیا سترګې نهٔ پټیږي ټوله شپه په شوګیرو شي

تن خو د دنیا سترګې زما په غم ړندې دې
څرګنده به شي مینه چې همدرد په ژړیدو شي

# غزل

سترګې دې ژړا کړې وار خطا نۀ شوې
راغلې خو محفل کښې په خانده نۀ شوې

ځان مې رنځور کړو په مرض د عشق
تۀ مې د زخمي زړګي دوا نۀ شوې

ما ویل که شمع ئې پتنګ یم زۀ
دې ویل چې بیا څۀ رنګه فدا نۀ شوې

اور دې په ځواني باندې خدائې پورې کړه
ګلې چې د بل شوې اؤ زما نۀ شوې

ما همدرد ډېرې د اوښکو بلې کړې
شپې د هجر تورې وې رڼا نۀ شوې

# غزل

اوښکي مې په سترګو دَ جانان کښې اولیدې
سختې څو لمحې مې په جهان کښې اولیدې

سور څالو ئې نن چې ناوې ته په سر کړو
حلقو سرې لمنې په آسمان کښې اولیدې

څه اور دَ محبت وو څه قطحې دَ دیدن
وچې شونډې مې په دې دوران کښې اولیدې

راشه دَ زړه په کور کښې مې دیره شه
د یارانې مې لړ ارمان کښې اولیدې

داسې معلومیږي چې ظلم زور دې مات شو
ړومبې همدرد چې تهٔ نن په خفګان کښې اولیدې

# غزل

بې شکه ښائسته وه خو څهٔ زړکه نهٔ وه
د زړهٔ دنیا پرې ورانیدل څهٔ ورکه نهٔ وه

کاش دَ مینې یو اظهار مې ورته کړے وے
امید چې یارانه به ئې زما ترکه نهٔ وه

نن به خوشاله لاس نیولې ګرځیدله
بیلتون مې همیشه په مقدر که نهٔ وه

په سر دَ مینې هر الزام به مې قبول وه
دا تهمتونو پنډه مې په سرکه نهٔ وه

همدرد به دومره وار په وار ژاړلې نهٔ وه
خپل زړګي دَ حاله لږ خبر که نهٔ وه

# غزل

اشنا چې ته خفا وې په خوشالۍ په ما کله راځې
زه ستا دَ غمه وچ شوم پسرلې په ما کله راځې

نرمو نرمو شونډو مې خفګانه وچ پترې ونيول
دا ځان سنګارولو بيا سيالې په ما کله راځې

وختونه رنګ په رنګ بدليږي څه اعتبار د زمانې
زړهٔ ګوګل کښې مې چې نه وې تسلې په ما کله راځې

دَ انتظار يوه لمحه لکه د کال په ما تيريږي
خوبونه په هجران کښې تنګيالې په ما کله راځې

زهٔ دائې په دواړو سترګو ړوند وه چې راغلې وه
همدرده ښه طوفان دَ در لالې په ما کله راځې

# غزل

که لیونۍ یو خپل پردي پیژنو
ښهٔ ، بد نظر دَ هر سړي پیژنو
چې غلي غلي څان سره مسکۍ شي
تازه راغلي ئې څوانې پیژنو
 تن به غمونه په شیبو وریږي
مونږه وریځې دَ ییکي پیژنو
که د یار ناز وي په خانده به ئې ورم
رقیبه ستا خو دښمني پیژنو
لږ غونډي ژوندون دے تیر به شي همدرده
خپل پردي به په مرګي پیژنو

# غزل

مینه ګرانه نهٔ ده خو اظهار راته مشکل دے
یار په دې دنیا کښې وفادار راته مشکل دے

خپل زړګې به ورکړم بے پوښتنې ګاوېژنې
داسې نه چې مات ئې کړې اتبار راته مشکل دے

کله به غواړېږې ګل غوټۍ ته منتظر یم
دې فانې دنیا کښې انتظار راته مشکل دے

په سینه کښې به جرمن ټوپك ګولې سړې کړم
د غنو خلقو مړو سترګو ګذار راته مشکل دے

ښادئې بدل کښې چې غمونه ملاوېږې
همدرده داسې عشق کاروبار راته مشکل دے

## غزل

خانده به څهٔ کړې چې وفا نکوې
مینه په روغه دا دنیا نکوې

دَ غوښې زړهٔ حالاتو رورولې کړې
کاڼې هغه دې چې پرواه نکوې

تل وې مینه دا هغو په مقلر ملګرو
څوك چې په سترګو کښې حیا نکوې

تن راته أوایه ګناه مې څه ده؟
ولې خبره څوك صفا نکوې

هغه قیصه به زیرې دَ جنت وې
چې ئې همدرد ته په غصه نکوې

## غزل

پس به دنیا کښې محبت وشمارم
چې نن خانده دې حقیقت وشمارم
سترګې دې په سترګو کښې ځلور نکړې
دا ناأهلي که خپل عزت وشمارم
چې په غربت کښې ستا نخرې پورا کړم
دا به اثار دَ بادشاهت وشمارم
که ته زما اخلاص باندې شکې شوې
شك به دې مرګ نه ، قیامت وشمارم
ترمې اوښکې مې چې مخ سورې نکړې
دا به دَ اوښکو نزاکت وشمارم
که اُف مې چرته ستا په غم کښې اوکړو
مجرم به ځان دَ مینې عدالت وشمارم
که بې ثبوته زړه ئې درنه یوړو
دا همدرده ستا به حماقت وشمارم

# غزل

نن دَ لیلی ښکلي ځواني خاندي
ورته دا لږي لیوني خاندي

نن دَ خانده وار ئې راغلې دي جوړ
همیش ګلونا په سپرلي خاندي

زړه مې خوشاله لوټ په لوټ آړي
لکه تښنو سره بچي خاندي

ځُله زما نهٔ ده اشنا دَ بندیدو لائقه
د ګل په ځنګ کښې خو ازغي خاندي

په ما همدرد به شوګیري نهٔ وي تل
ماته په شپو کښې چي سپوږمي خاندي

# غزل

لکه په سترګو کښې ازغي اوسېږو
په رواجونو کښې بندي اوسېږو
يو بل ته دَ يړّي غږ نه شو کولې
په روغه ژبه کښې ګونګي اوسېږو
په زړهٔ مو سرهٔ اورونا بل ښکاري
لکه ليمو کښې چې لوګي اوسېږو
دَ مينې خوږ وختونه چې راياد شي
ځان سره خاندو ليوانې اوسېږو
همدرده کله کله ديدن وشي
مړ کېږو نه ځکه ژوندي اوسېږو

# آزاد نظم

دَ غمونو په کاروان کېښي
تلم ېواځي بیابان کېښي
تماشه مې ستورو وکړه
چې ژاړل مې په هجران کېښي
کاڼو په سلګو کېښي وئیل
ګنهګار یو په جهان کېښي
چې ستا یار په لاس کېښي راشو
بیا نۀ ځائیږو په خپل ځان کېښي
وچ پراته وو دا مړدو نه
نۀ په مونږ اوښکو باران کېښي
ربه ، مونږ پرې صدقه یو
سوال قبول دا دې انسان کېښي
تل همدرده نۀ چې ژاړې
څۀ دې شته په دې جانان کېښي

# غزل

بدن مې ناقلار دے زړهٔ مې په سکون نهٔ دے
چې مينه پکښې نشته دا مې څهٔ ژوندون نهٔ دے

راباشې ملګرو لږ شانې منت غواړې
زما په شان دے غټ څهٔ افلاطون نهٔ دے

تل دا ښکلې يار سره په دښمنئې کښې اوسم
ښهٔ پوهيږم چې دَ مينې دا قانون نهٔ دے

ورشه يار ته څنګ کښې غلې غلې اُوژاړه
په محفل کښې چې ژاړېږې دا جنون نهٔ دے

قيمت دې کم کړو اوس پوښتنه دې څوك نکړې
همدرده دغه زړهٔ دے اوس دا هيڅ خرڅون نهٔ دے

# غزل

قلم رواخله دَ يار په نوم غزل اوليکا
فريادونه او ګيلې مې زړهٔ پاګل اوليکا

چې مثال ئې دَ ښائست په جهان کښې موندے نهٔ شي
په ښائست کښې ئې سپوږمې نه هم افضل اوليکا

ښکلې بلبلان چې پرې شيدا دَ درست جهان شي
داسې تعريفونه اے زړګيه دَ خپل ګل اوليکا

سپينه خله چې سپړې نو ګلان ترې نه شرميږي
دَ سپرلي وږمو نه ښکلي ئې خندل اوليکا

چې تور حال په سپينه زنه ئې درياد شي کله
په سپينه پاڼه ذکر دَ ښائست ئې مکمل اوليکا

په صفت چې ئې خبر ټوله دنيا شي ستا له مخه
اے همدرده تهٔ پرې داسې يو غزل اوليکا

# غزل

کجاوې لاړې اوس ډولۍ ورکېږي
پښتنو وادو کښې خوشالۍ ورکېږي
ډول راته په چغو چغو وائي چې
په ګلوګانو کښې سیالۍ ورکېږي
ښادۍ کښې ډزې کله کله وشي
خو شپې کارتوس دَ روشنائۍ ورکېږي
خاوند سره پخپله جحته کېښني
ژاړه په سترګو دَ جینۍ ورکېږي
دا تن مخلمو به څهٔ ګیله وکړمه
د مشرانو مې پګړۍ ورکېږي
همدرده دا حالات داسې روان دي
لکه لیونې د آبادۍ ورکېږي

# غزل

لکه رڼا ، خبر شو ویړ په جهان
چې تار په تار کړلو اشنا مې ګریوان

یره ترې نهٔ کړم که خطره وي د سر
پوهیږم کار د مینې نهٔ وي آسان

که څو ستم په ما غریب کوي تل
هر څهٔ مې هیر شي چې مسکۍ شي جانان

د مینې ګل مې مړاوي کیږي نوره
که دې پرې راوستو د وصل باران

لیلې چې سره ډولۍ کښې بل له تلله
سخت وو د صبر په همدرد امتحان

# غزل

ځان سره پټه په زړګي کښې مې ژړا کوله
يار چې محفل کښې کله ما پورې خندا کوله

څۀ ئې وئيل خو د حالاتو نه مجبوره وه نن
پښتنې خلقو نه په سترګو کښې حيا کوله

د غمازانو راته سمې وې لښکرې جوړې
مونږه چې کله نه د مينې ابتدا کوله

تا مدام ګلې وعدو پسې وعدې کړې دې
ما درسره محبوبې مينه په رښتيا کوله

ستا په ديدن پسې ليواله دې تراوسه همدرد
چې تذکره ورته هر چا ستا د ادا کوله

## غزل

مدام زما ناأميدي ده دا ارمان په برخه
په قسمت مي تنهائي ده دا جانان په برخه

ستا ژورو تورو سترګو ته کتو په جرم
ښائسته ځواني مي لاړه د زندان په برخه

په زړه نرئي دي اوس به رایځله شي
صبر دغه ویل راته امکان په برخه

بخته خوشالو بنګله محل مي په کار نه دے
غم ته يوه جونګړه راکړه د مکان په برخه

وچ سوي ارمان به دي دا څنګه راتازه کړي
همدرده اوښکي دي څاڅيږي دا باران په برخه

# غزل

لاورایه ستا پیغام نه خوشبویونه راغلل
په ټول بدن مې بیا نن بهارونه راغلل
دا مودو نه ستا پیغام ته منتظر وم
ځکه مې په سترګو نن خوبونه راغلل
که خفا زړګې مې خوشالئي نه چود نه شو
دا سترګو مې رڼو اوښکو رودونه راغلل
ځانه مې زړه تور وو دا ژوندونا بې پرواه وم
ستا یارئي سره په ژوند مې امیدونه راغلل
اظهار دَ مینې زه په کومه ژبه اوکړم
همدرد په خیال دغه شعرونه راغلل

# غزل

یاد دې زما اوس هم ژاړوي کنه؟
احساس په تنهائي کښې درکوي کنه؟
زما د قصده به ې څنګ کښې چې ساتلې
هغه اشنایان دې اوس ګرځوي کنه؟
زما او ستا په مینه چې غمګین وو
هغه دې چرته اوس هم یادوي کنه؟
شته هغه رباب منګې رښتیا وایه
څوک ئې کله کله ټنګوي کنه؟
تا دَ حیل همدرد نه تپوس اوۀ کړو
چې بې لَتانه خوب چرته ورځي کنه؟

## غزل

چې دَ ګوهر ځلا نه ګوري ملغرې سوزي
عجیبه وخت دي دَ ملګرې نه ملګرې سوزي

زرکه په ناز چې قدم اخلي نو مستي راولي
بل خوا حسد اور کښې تل ورته تنذرې سوزي

حال مې دَ خوږ زړهٔ مه پوښتې چې څهٔ شوې دي
خلې نه مې وګورئي خواږي خواږي خبرې سوزي

دَ ژوندانهٔ په لاره ګرځمه تنها ملګرو
تر هغه لاړمه په کوم ځائې چې وزرې سوزي

غم مه راکوه زهٔ همدرد ئې توان نهٔ لرم
په خوږ نظر مې بیا دَ غم ټولې لښکرې سوزي

# غزل

څهٔ خواږهٔ ئې راکتلې وو پرون
پټ ئې ځان سره ځاندلې وو پرون

نهٔ اقرار د يارانې کړې نهٔ انکار
څو کسان مې ورلېږلي وو پرون

کله به غواړېږې يم په انتظار
ترې رنګونا شرميدلي وو پرون

پښتون ضبط اؤ زړهٔ مې دواړه بې اختيار
يار راتلو ته کښېدلي وو پرون

ستا به غم کښې واړه ستورو د آسمان
د همدرد سره ژاړلي وو پرون

# غزل

زار دې دَ نامې شم چې دا دې هم سرې کړل
دَ کونډو ، یتیمانو په قسمت دې لیونې کړل

دوئې به هم لیدلې وې خوبونه دَ خوبانو
څومره په آسانه هر صورت ته دې راغې کړل

دَ حال ئې څوك خبر دې چې خفا دې که خوشال
په ظاهره ې پورا ټول رواجونه لباسې کړل

دَ دا ستا دنیا ده پکښې اوسه خوشالیږه
ښه او بد ئې ټول چې نوشته ستا په تندې کړل

دَ وخت دَ ناکردو دلاسه وګوره په سلګو وو
په صبر ې همدرده ارمانونه راژوندې کړل

# غزل

ستا په یاکه مینه پائیم
زهٔ صفا حالونه وائیم

څوك كه ژاړي او كه خاندي
په محفل كښې به دي ستايم

خبر نهٔ یم دَ دنیا نه
ستا په سوچ كښې مبتلا یم

دنیا اور شي پرواه نشته
تا چې وينم په خانده يم

كه تیاري مخې ته راشي
زهٔ به ستوري دَ صبا یم

ستا وفا چې ما سره وي
بې پرواه دَ دي دنیا یم

ستا د سوري لاندې ناست یم
ربه ، همدرد په دي رضا یم

# غزل

حسن جلوه دې دَ طور غر سوزي
ستا شوخ نظر زما ځيګر سوزي
ستا دَ سرګو شونډو مستانه مسکا
دَ زړه دَ پاسه مې پرهر سوزي
مخ پلوشې دې لکه نمر دَ غرمې
لوې چيناروته دَ ګودر سوزي
ستا دَ مړو ژورو سترګو مخه
خمار جامونه دَ کوثر سوزي
ستا د سپين مخ پلوشو نه قربان
چې لرې لرې دِ همدرد سوزي

# غزل

عمر تیرېږي پکښې څهٔ پاتې شو
داغ مې په زړهٔ دَ بېلتانهٔ پاتې شو

ما ویل چې خوند به دَ ښه ژوند اخلمه
ټول ارمانونا مې اودهٔ پاتې شو

دَ مینې نوم نه مې نفرت شو داستا
یاران مې ستا په سر هغهٔ پاتې شو

دَ اوسنۍ مینې یاران داسې دي
نوي ئې چپل کړې ترې زاړهٔ پاتې شو

همدرده وخت به چرته راشي کنه
اوس د خلا په لور کاتهٔ پاتې شو

# غزل

ځۀ خبر وم زړۀ ساتونکې يار به داسې وي
ظالم په زړۀ کښې وفادار به داسې وي
ټول ارمانونه چې په يو ساعت لمبا کړې
سور اور دَ سپينې ځُلې انکار به داسې وي
ترجمانې زما دَ زړۀ فرياد چې اوکړې
په درست جهان کښې څوك رېبار به داسې وي؟
زما دَ زړۀ اخلاص چې خلقو ته ښکاره کړې
منصوره ، بل دَ مينې دار به داسې وي؟
دا ارمانونو همسفر چې ملاوېږې
همدرده ژوند کښې چرته لار به داسې وي؟

# غزل

کړل ستا بې وفائي مې ارمانونه دړې وړې
خزان چې څۀ رنګ کاندي سرۀ ګلونه دړې وړې

ما سترې وجود چې ارماني بستر ته ورشي
بیا ستا ناترسه یاد مې کړې خوبونه دړې وړې

ځان له جوړ کړم صبر محلونه په هوا کښې
احساس اوښکښې مې بیا کړي محلونا دړې وړې

څنګې به جانانه دَ ژوندونه مطمئن شم
ستا تریخ نظر مې وران کړي امیدونه دړې وړې

ځواني مستي مې بند شوه ستا دَ حسن په جاله کښې
عبث لاړل په هوا کښې پروازونه دړې وړې

همدرده تۀ خو بې پرواه دَ صبر په تخت ناست ئې
خو صبر همیشه کړې روغ وختونه دړې وړې

# غزل

ستا د یاد تیاري خوریږي راشه راشه
د امید ډیوي مړې کیږي راشه راشه

د زړهٔ کور دروازې ما دي پرانستلې
ستا وجود پکښې ځائیږي راشه راشه

انتظار مې نن د صبر کسې سپین کړل
ستا دیدن پسې ړندیږي راشه راشه

د فراق لمبو مې ټول وجود سور اور کړو
دغه اور په تا مړ کیږي راشه راشه

سپوږمئې یار ته زما داسې پیغام ورکړه
همدرد تا پسې ژاړیږي راشه راشه

# غزل

صبر چې کومه تش لاسونه به راپاتې شي
چپه ځله چې اوسم پیغورونه به راپاتې شي

ترڅو به ستا دلاسه په ژوندون یمه یوازې
لاړ چې انتظار شي خپل وختونه به راپاتې شي

هر وخت خپل بیلتون څه له ښائې ما ته په ګوته
خواه مې چې خالي کړې ستا یادونه به راپاتې شي

بزدل نه یم په مینه ځان شیندل راته معلوم دي
مرګ نه نهٔ یریږم ارمانونه به راپاتې شي

همدرده یاران له ابهٔ مه ښایه جامونو کښې
بیا زاړهٔ دَ مینې دیوالونه به راپاتې شي

# غزل

انداز د یار راته بدلیږي د وختونو په شان
زړګي زما پري تل دړدیږي د دړدونو په شان

وائیم صبا به خوشالي راشي تازه به شم
په دي ګمان مي ژوند تیریږي د خوبونو په شان

ځان دي چي تم کړي ارمانونا دي هم منع کړه اوس
د اوړي شپي راته اوږدیږي د کالونو په شان

یوه وعده دي هم ربتیا نکړه بے رحمه اشنا
هره خبره دي بڼکاریږي د لوظونو په شان

تاته خپلي خوږي خلي خانده قیمت څهٔ دي معلوم
خو زړهٔ زما پري تازه کیږي د ګلونو په شان

راشه دیره شه د همدرد په خوب اؤ خیال کښي اشنا
په میلمنو حجره ځلیږي د ګلونو په شان

# غزل

آخر دَ صبر انتها به اوکړم
چې ناامیده شم گناه به اوکړم
ورځ مې یوازې په لټون تیره شي
په شپې د ستورو ملگرتیا به اوکړم
دَ غواړېدو وختونهٔ اوس دې په ما
پس د مرگه څهٔ ښکله به اوکړم
اختیار په ته نهٔ مې په ځان شته
که څه کولې شم ژړا به اوکړم
زما یادونا امانت دې دا ستا
چرته بیلتون کښې پرې ژړا به اوکړم
غم رو رو زیاتیدو اوس میړتون شو
همدرده دا دې څنگه مقابله به اوکړم

# غزل

نن دَ وختونو تقاضې نورې دي
زما خيالونو اندازې نورې دي
پوائې غم دَ بيلتانه خو نه دے
د يار د لورې انديښنې نورې دي
پرون ې ځير ځير قهرجن راکتل
دَ يار په زړهٔ کښې ارادې نورې دي
ساقي په ګوټ باندې ماړيږو چرته
زمونږ دَ تندې پيمانې نورې دي
ما په سترګو کښې ګناه لټوې
دلته عالمه فريښتې نورې دي
داسې نه وم زه همدرد ملګرو
دا نن په خله مې ترانې نورې دي

# غزل

دَ داناوو په نظر کښې به نادان یم
په هوښیار جانان تر ټولې دنیا ګران یم
څوك به وي رانه خوشال څوك به خفا
چا ته پوست لکه ریښم چه ته سندان یم
هغه لعل یم پټ په ایرو کښې نۀ لیدلي
جوهري په لاس رانغلم ارزان یم
داسې نه ده چې بې غمه یم لوي شوي
زه دَ وخت ناکردو په لاس ځوان یم
تماش بین مې په ظاهره غلطیږي
پټ دننه خزانه دَ علم کان یم
غني خیر راکړي سائل ته ځوك مې رټي
زۀ کچکول په لاس دَ مینې ترجمان یم
صبر شکر مې په هر حالت قبول دے
قناعت کښې زه باچا دَ کل جهان یم

# غزل

نن راته وکړه لږې ښې خبرې
بدې په ما لګي تراخې خبرې

نور مې غوږونه اوريدلې نشي
له غمه ډکې اؤ سپيرې خبرې

ما بې ارزښته په ژړا کړې اوښکې
ته د ژړا راته کوې خبرې

دَ زړه درازه مې دَ تبلې غوندې شوه
کوې خواږې لکه نغمې خبرې

خدائيګو جدا به کړې همدرد له ځانه
چې کوې تل دَ يارانې خبرې

# غزل

اوښکه ئې په مخ رېرېوتله پرخه پرخه
ما هم لېونې غونډې شمارله پرخه پرخه

تن څومره بې وخته ې دستوره نازنينه
بيا دَ چه په غم کښې ژړېدله پرخه پرخه

څومره بې اختياره مې دَ خړې خاورې ښکل کړې
ما چې خپل خيال کښې ښکلوله پرخه پرخه

چمك ې سپوږمئې کړله حيرانه او پرېشانه
تن ې چې په سپين مخ ځليدله پرخه پرخه

لږ ساعت ديدن وو خوشالې وه تماشا وه
بيا مې تل له خياله نهٔ وتله پرخه پرخه

څنگه ئې په يو نظر ساتې او سودائې شو
دې پاګل همدرد څهٔ له کتله پرخه پرخه

# غزل

دَ بې وخته محبت دغه انجام دے
نن ليکلې ليونو کښې زما نام دے
توري زلفې چې ليلی په مخ خوارې کړې
چا ويل نمر تندر نيولے که ماښام دے
مينې خپله ليونې کړله شيرينه
په ما هسې تعويز کوډو الزام دے
بس خيالې سفر دې هيڅ منزل ئې نشته
دا مې عشق په لاره تلونکو ته پيغام دے
شيخه ستا دَ رونق جنت محتاجه نه دے
شهادت دَ مينې ډير غوره مقام دے
ګل په غوړېدو ده خدائې دَ خير کړې
دَ مالت ډيرو کسانو ورته پام دے
زخمې زړه ته پرې ټکور ورکړه همدرده
ستا په نوم ئې راليږلې چې سلام دے

# غزل

دَ مینې مې زاړهٔ یادونه شته دي
لا مې په زړه هغه زخمونه شته دي
زه خو بدحال درنه حالاتو کړمه
دَ پیغلتوب تا کښې نازونه شته دي
چې دې دَ حسن زور په ما غالب شي
پرئې شمه په زړهٔ کښې امیدونه شته دي
د ژوند خواږهٔ یادونه ځلې له راغلل
نور مې په زړه لوې دستانونه شته دي
مینه رسوا نهٔ شي چې غږ نهٔ کړم
همدرد په زړهٔ کښې سرهٔ اورونه شته دي

# غزل

ملګرو ډېك دَ مینې حور بازار به ځنګه وي
تنګ نور به مخ یه وړاندې په دې لار به ځنګه وي

زه خپل غمونا ژاړم دَ دنیا غم نه لرې
اخته په دې سوچونو یم چې یار به ځنګه وي

دَ حسن پلوشې ئې په آسمان حورې ورې دي
حیران یمه ملګرو چې دیدار به ځنګه وي

سودا ده لګیدلې په ما پټ پټ پکښې سوزم
دَ مینې محبت ښکلې اظهار به ځنګه وي

په سترګو کښې وعدې چې دَ وفا کوې همدرده
په نرمو نرمو شونډو ئې ګفتار به ځنګه وي

# غزل

زړګي چي مات شي بيا جوړېږي کله
اوښکي په سترګو کښي تمکېږي کله

دَ هجر اور کښي به سوزېږي مدام
د ميني اور دي لمبه کېږي کله

هومره به ژاړم چي حاصل مي نهٔ وي
په دلاسو زړه مي دا صبرېږي کله

يو ځل دي موړ نهٔ کړم پورا په ديدن
په ګوټ ابو تنده ماتېږي کله

همدرد څو ستا په انتظار کښي وچ شو
ستا دَ ديدن باران ورېږي کله

# غزل

چا نه ګل چا نه ازغي چا نه بهار یم
چا نه مینه چا نه اور چا نه انګار یم
غنچې غنچې راله لاس دَ مینې راکړې
غنچې غنچې رانه تښتي چې بې کار یم
چا نه یوه لحظه لمبا دَ انتظار وې
خوښ تر مرګه دَ لیلی په انتظار یم
یاره کله چې خوشال وې نو ما هیر کړې
په غمونو اندیښنو کښې دې بیا یار یم
څوك مې داسې یادوې لکه چې ښهٔ یم
اوُ چا په خیال کښې زهٔ یو ګنهګار یم
همدرد هر چا ته ټوټې زړګې نیولې
زهٔ دَ هر غریب وګړی نه چې ځار یم

# غزل

معلومېږي دَ يار غم پرې زوره ور شي
لېونې چې دَ خپل کلي در په در شي

مئينتوب خو انتها دَ لېونتوب ده
چې مئين پکښې په اوتو بوتو سر شي

په پردو غمو زړهٔ کله دردېږي
چې پخپله ې په سر شي بيا خبر شي

که ځواني دَ محبت په اور ستې شي
خدائې خبر که ترس پرې بيا هم دَ دلبر شي

دا دَ غيبو فيصلې وي کله کله
دَ زمانې ګدا وي تاج ورته په سر شي

دې حالاتو سره هغه به چلېږي
چې فولاد ورته همدرده سته ځيګر شي

# غزل

څهٔ به دې کم وو که دې لږ غوندې خندلې وے
دَ ژوندانه خوندونه ما به هم لیدلې وے
دَ څنکدن سلګئ به ډیرې وې آسانې په ما
سر ته چې ناسته تا په حال زما ژړلې وے
څکه خو ماته ستا بې خونده میخانه ښکاره شوه
خمار دَ سترګو پکښې نهٔ وو چې ما څښلې وے
بدبخته ، ستا په څله مې نوم دَ محبوب رانغلو
ما به عرب کانړې دَ ګوهر سره تللې وے
پهَ پیغلتوب باندې ئې رانغلو سپرلے دَ مینې
همدرد ګلونا لیلی باندې چې شیندلې وے

# غزل

ساده پښتون یمه ، دَ خپل ضمیر عادت کوومه
چې ستا په مینه ستا په سر باندې غیرت کوومه

ستر ګې خو نشم تیتولې دا پښتو وطن دې
ننګ به کومه هم په تا باندې به پت کوومه

زما ځائې شته دې چې سوَب دَ مجبورې به کوې
ځله مې شه ماته چې به بل چا نه منت کوومه

ځکه دَ ګرد انسانیت په غم لیدل نهٔ غواړم
چې دَ خپل ذات نه زیات انسان سره الفت کوومه

دَ بې ننګې په معامله کښې داسې هم شوې دې
چې کله کله دَ جانان نه هم نفرت کوومه

خوښه ده ستاسو ما همدرد سره هر څهٔ چې کوې
خو زهٔ به ستاسو سره مینه محبت کوومه

# غزل

ستا په غم کښې تل ژاړېږې ، ورته اؤایه ریباره
درېسې لیونې کېږې ، ورته اؤایه ریباره

په مزار چې مې ژاړېږې ، بې مطلبه بیا صبا له
راشه وخت درنه تیرېږې ، ورته اؤایه ریباره

د زړهٔ ور مې پرانستلې ، که راځې نو دا دې وخت دې
د امید ډېوه بلیږې ، ورته اؤایه ریباره

د ښائست په ښکلې باغ کښې ، ټوکیدلې ګل غوټې یم
ګل غوټې درنه رېژیږې ، ورته اؤایه ریباره

حال که نهٔ وائې همدرد څو سترګې ئېتل سرے وې
دا ئې څوك په زړهٔ وریږې ، ورته اؤایه ریباره

# غزل

عمر مې ستا په انتظار لاړو
زما دَ ښکلې ځوانۍ وار لاړو

زړهٔ مې د دغه غمه رغیږي نهٔ
چې مرور رانه ځیل یار لاړو

زړهٔ صبرومه ترې صبریږي کله
په تورو زلفو ګرفتار لاړو

په ډکو سترګو رانه ولې ګوري؟
قرار زړګي نه مې قرار لاړو

د ننه حال نه مې الله خبر دے
چې مې دَ مینې کاروبار لاړو

لا مې دَ زړه زخمونه روغ نه وو
چې بیا دَ سترګو ئې ګذار لاړو

همدرده دغه عشق نامراد دلاسه
قیمتي ژوند مې ټول بیکار لاړو

# غزل

یوازې ما سره دا کیږي که دنیا دغسې ده
ټول ښکلې داسې دي اؤ که لیلی دغسې ده

کله په خاندہ راشي کله لرې وتښتي
یا نهٔ پوهیږم زهٔ یا ئې ادا دغسې ده

خار دي شم دَ ځلې نه اے ربباره خوږبیانه
قیصه ئې تا خوږه کړه که رښتیا دغسې ده

په ډیر ژړا ژړا مې دواړه سترګې دي سرې شوې
چې ورانه د زړګي مې نن دنیا دغسې ده

تراوسه دي وصال چې دَ اشنا په نصیب نه شو
همدرده دَ ازل برخه جوړه ستا دغسې ده

# غزل

لاس نیولې چې راځي په مازیګر کښې
څومره خوند کوي یاران په لواغر کښې
دا یو بل سره په مینه داسې وینې
لکه څپل چې سره ګورې په اختر کښې
مازیګر چې خلق لواغر په لورې ځي
نه تمکیږي زما زړه بیا په ځیګر کښې
په خواږو خواږو سندرو زړونا ښه شي
لکه ښکلې شان ګودر په مازیګر کښې
بس یو زه همدرد ئې دشتو ته ویسار کړم
نور خو څه کمال مې نشته په دلبر کښې

## غزل

دَ رقیب سره په نیت دي زهٔ خفا نهٔ یم اشنا
گمانونا په ما مهٔ کړه بې وفا نهٔ یم اشنا

همسفر په لاره پرېږدي دا دستور دَ زماني
ملګرې ستا مدام یم یوه لحظه نهٔ یم اشنا

ځې وختونه دي بدلیږي څهٔ باور په زماني
نن چې څنګه یم ممکن چې به سبا نهٔ یم اشنا

زهٔ همدرد دستا په عشق کښې دا مجنون سره سیالي کړم
پوئې دَ عشق په زیراؤبم یمه کچه نهٔ یم اشنا

## قطعه

ولې څنګوې مې دَ ستم په ټال
خوبه ، څملوه مې دَ صنم په ټال

زړهٔ مې څنګیدلو ته نور نهٔ کیږي
نوره مزه نشته دي دَ غم په ټال

# غزل

که تهٔ رانغلي د سلام دَ پاره
زهٔ به درنشم ساقي جام دَ پاره

تمامه ورځ مي درته تيره کړله
هيله دي رانکړه ماښام دَ پاره

دا ستا کوڅه کښې مي څهٔ پلار نه دي ښخ
راغمه ستا دَ خلي کلام دَ پاره

ځم گاونډيان دي په اوربل خبروم
دَ ليونې مينې انجام دَ پاره

چي په پښتو باندي دي تنگ اونکړو
تهٔ به نور څهٔ اوکړې دَ خپل قام دَ پاره

زما نامه باندي ياديږي گڼي
همدرد غزل ليکم ستا نام دَ پاره

# غزل

هيڅ قسمت دا هغو نشته په ثواب کښې
چې سجده نه کړي د روزو په محراب کښې
هميشه د يو نغمې مې خلق تنګ شو
سُر نشته بې له تا د ژوند رباب کښې
بلبلان به د چمن په لوري نه تلل
که سُرخي نه وي په پاڼو د ګلاب کښې
خدائې خبر چې يار څه دې ورته ويلي
ريبار څهٔ راته او نهٔ وئيل جواب کښې
ستا کوڅې ته چې په سرو جامو کښې راغله
اے همدرده شك دې نشته په غذاب کښې

# رباعي

هر اميد مې د زړهٔ وچ شو ياران نشته
په ژوندون ستا دَ راتلو څهٔ امکان نشته
د غم چغې څو هر سړئ وهي چې غم دے
له عاشق سرے نه بل څوك پريشان نشته
نن چې محې ته ناڅاپه راغلي ياره
ځانله ګرځه هيڅ په ما دې احسان نشته
د همدرد د زړګي اور لمبو نه ډك دي
بې له شعره ئې په نور څهٔ ګزران نشته

# غزل

چې په هجر کښې سوزېږي هغه څوک دے؟
چې لوږ نام لري ځلېږي هغه څوک دے؟
چې محفل کښې ې په تشه خلهٔ خندا وي
تنهائۍ کښې چې ژاړېږي هغه څوک دے؟
چې له غمه بې پرواه اؤ بې خبر وي
چې خيالونو کښې ځنګېږي هغه څوک دے؟
وي بې نامه اؤ له ځانه ناخبر وي
افسانې ئې ويلې کېږي هغه څوک دے؟
چې پخپله ځان ناکام شماري همدرده
حوصلې چې ماتېږي هغه څوک دے؟

# غزل

زه تير وختونه د ګودر ژاړمه
دَ خپلې مينې وران کنډر ژاړمه
هامان په خپلو خزانو نازيدو
شيداد په خپل مرګ ناخبر ژاړمه
د دنيا دوې ورځې ښادئې تېرې شوې
خالې لاسونه سکندر ژاړمه
د پختونخوا شمله غيرت چې ساتم
بيا د ظلمونو بار په سر ژاړمه
زهٔ د خوشال په توره ډير نازيدم
ن په بدحال د خړ خيبر ژاړمه
همدرده جام د ساقى مهٔ نوش کوه
بيا په جامونه د کوثر ژاړمه

# غزل

مُسکا رانه دَ اوښکو په سلګو کښې غواړې یار
او زړهٔ رانه په یو نظر کتو کښې غواړې یار
دَ مینې له خاطره مې لوګې کړل ارمانونه
رڼا رانه دَ هجر تورو شپو کښې غواړې یار
په عمر مې خندلې چرته نهٔ دې په ژوندون کښې
نو څنګه رانه زړهٔ په خاندیدو کښې غواړې یار
نادان دې که قصدا کوې چې بې له کوم بدله
دَ حورو زړهٔ قربانې رانه لمبو کښې غواړې یار
ښائسته ځواني مې لاړه مینې اوخوړه همدرده
دعا رانه دَ زړهٔ ازاریدو کښې غواړې یار

# غزل

مرګي په وار دي په لمبو کښي نشته
صفت د يرې مړنو کښي نشته
څنګه چي خوند د زمکي خوب کښي پروت دے
داسې خوند چرته محلو کښي نشته
د چينار غونډې په متو باندې زور کړه
توره پلار نيکهٔ نامو کښي نشته
ګوره ګرم په پښتنو چې نه شې
بيا بخښل په پښتنو کښي نشته
څوك چي غيرت په پښتنو نه کوي
همدرده نام ئې ننګيالو کښي نشته

## غزل

دا څڅه عجیبه وخت دے چې لاسونه رانه وړي
بیلتون راپسې شوي دیدنونه رانه وړي

دَ وخت په پسرلو کښې زمونږ برخه نه رسیږي
خزان سپیره دَ مینې سره ګلونه رانه وړي

پتنګ لکه پخپله اوس په سرو لمبو کښې خوښ یم
ولې دَ چم خلق دا اورونه رانه وړي

د مینې سوري لاندې دمه نشته په نصیب مې
تار په تار ئې اوړدي زلفې چې بادونه رانه وړي

ما په نیمه کښې پریږدي دا وختونه رخصتیږي
ځواني خپلې جولئې کښې امیدونه رانه وړي

په ما باندې خانده شوله حرامه اے همدرده
ځنګولي چې جانان مې قدمونه رانه وړي

# غزل

شړنګ په سپينو ليچو دا بنګړو مزه کوي
ګودر کښې قطارونه دَ منګو مزه کوي

چې ځان له تخيّل کښې په خيالي جنت کښې ګرځي
بې غمه شان دنيا دَ ليونو مزه کوي

په مينه محبت په ټنګ ټکور باندې راغونډ وي
حجرو کښې مجلسونه دَ ځلمو مزه کوي

چې مينه دَ کابل دَ سرو منړو مې پرې ماتيږي
تک سرۀ سرۀ انګې دَ پښتنو مزه کوي

ورګوره تماشا کړه لکه زرکه خرامانه
قدم دَ نوې پيغلې په نخرو مزه کوي

دَ خپلې مجبورو دلاسه پروت يم زۀ همدرد
ژوند ښکلې دَ وطن په ګلدرو مزه کوي

# غزل

احسان ښيګړې به ترڅو په جنان خرڅوم
خپل لوئې لوئې ارمانونه بس دې په هجران خرڅوم

د راتلو امید به دې ترڅو په سترګو کښې ساتم
تن ځم په بیلتانهٔ دَ وصل دا امکان خرڅوم

داسې سودائې شومه دَ عشق په بازارهٔ کښې چې
ښائسته ځوانې مې خپله په تاوان خرڅوم

زما دَ پاکې مینې احترام چې پکښې نه وې
داسې کس بیا دَ بیقدرو په ډهیران خرڅوم

په ګرانې کښې دَ وفا خبرې ګرانې شولې
ځم همدرده دې له پاره دا اخپل ځان خرڅوم

## غزل

خزان چې راشي نو ګلان په پرهوتو شي
ليلې چې مخامخ شي زما زړهٔ په رپيدو شي

ترسيږم د مودو نه چې ليلې په خوا کښې کېښنم
د لرې مې چې اوينې ليلې په تهنيدو شي

زړهٔ مې غواړي چې د ګل مخې تماشا اوکړم
خو چې سر پورته کوم چشمان په ټيټيدو شي

وړوکې شان حرکت د بې رخمې راته ځرګند شي
بيا سترګې نهٔ پټيږي ټوله شپه په شوګيرو شي

نن خو د دنيا سترګې زما په غم ړندې دي
ځرګنده به شي مينه چې همدرد په ژړيدو شي

# غزل

په مينې اور به دې دَ ځان سره لمبهٔ کړم
چې ستا نه زړهٔ ګټلو کله اراده کړم

تا به هله جوړ ملګرې دَ سفر کړم
منزل په لورې اميدونا چې پاښهٔ کړم

هلاك دِ کړم بې واره چې دې اوئيل
ستا قصدا نور په ديدنونو به ماړهٔ کړم

که شيدائې زما دَ سترګو نه پرېږې
ګذار له پاره به تيار ورته بانړهٔ کړم

ما څهٔ له پروې دَ هجر شپو نه
همدرد دا سترو ملګرتيا په بيلتانهٔ کړم

# غزل

اوښکې دَ اشنا په سترګو کښې مزه نکوي
يو خانده ورسره خوند کړي خو خاندہ نکوي

که دَ وصل تږے په سلګو دَ ځنکدن شي
ليدو په ارمان که مړ شي يار پرواه نکوي

دَ ژوند حق په تا حرام دي اے ساده زړګيه
چې ياد هره درازه دِ خوږ اشنا نکوي

سرو شونډو الفاظ که په پيسو باندې خرڅيږي
دلته څوك به داسې وي چې دا سودا نکوي؟

ښکلې شان ځواني دې په لوظو پوره همدرده
چې اشنا مخلص دې قول کښې دهوکه نکوي

# غزل

زما خبر داسي ليلى ته رسي
دَ ګل خوشبو لكه باورا ته رسي
درودیوار کښي ئي تصویر لټوم
معلومیږي عشق مي انتها ته رسي
خوشالئي غم ورته تحفه کښي ورکړي
دَ عمر برخه چي بنده ته رسي
هجرِ اسود به ئي دَ ځني ښکل کړم
که څهٔ راحت مي زړه درازه ته رسي
نسبت ئي چي دَ خورو سره کړمه
هره خبره مي ګناه ته رسي
دَ میني غداران چي ژوندي ښخ کړم
قدرت زما چرته موسٰی ته رسي
خلقه همدرد به ولي نه ړنديږم
دَ مخ خاله ئي چي بریښنا ته رسي

# غزل

همدرده ستا تیارهٔ جونګړه ښه ده
چې ستا اختیار او عزت پکښې وي
داسې محل باندې به څهٔ کوې چې
مکر و فریب منافقت پکښې وي
د زړېږوړګي سل کاله ژوند مهٔ غواړه
ښکلې ځوانې غواړه برکت پکښې وي
د بې غیرته سل کسانو نه ښهٔ
دوه یاران ښهٔ چې محبت پکښې وي
بیا دَ دنیا ستم نه مهٔ بریږه
مټې مظبوطې چې طاقت پکښې وي
د یوسف حسن نه دنیا پسخیږي
خوند کوي ډیر چې شرافت پکښې وي

# غزل

د ګټلو ځوك مي نښته ، بې وسه په سلګو یم
هسې سترګې غړومه ، ګنې مړے په ژوندو یم
چې غیرت کومه یاره ، دښمنې راپسې ګرځي
چې سترګې ټیټومه ، ناسړې راپسې ګرځي
ځکه حق حیران یم ، نیولې وسوسو یم
هسې سترګې غړومه ، ګنې مړې په ژوندو یم
ګل ته چې ورلاس کړم ، هغه راته ازغې شي
چې ځوك ځان ته نږدے کړم ، هغه راته پردې شي
محسن مي هیڅوك نښته ، منکره د رشتو یم
هسې سترګې غړومه ، ګنې مړې په ژوندو یم
د بې وسه زندګي نه مرګ راته ډیر ګران دے
عزت داره زندګي خو اوس پیغور په دې جهان دے
غربت راته پیغور شي ، ډیر تنګ دا دې قیصو یم
هسې سترګې غړاومه ، ګنې مړې په ژوندو یم
چې ځوك دا دې خبرېږي ، همدرد چپه خله سړے دې
کاڼي کړي په لاس کښې خلق ته وائي لیونے دې
په ما کړې ګذارونه ، شمار په لیونو یم
هسې سترګې غړومه ، ګنې مړے په ژوندو یم

# غزل

په خپل ژوند کښې قيامت مې په جهان اوليدو
چې تار په تار مې د پښتون اولس ګريوان اوليدو

اور دنيا اخيستې پاتې پکښې هيڅ نۀ دې اوس
چې څناور نه کم قيمت مې د انسان اوليدو

هر سړے غم کښې دې لګيا په چغو چغو ژاړي
خپل ګل وطن مې د کنډر پشانې وران اوليدو

فيرنګ چې کله د پښتون په کور يرغل وکړلو
په وينو سور مو سپين څادر د پاکستان اوليدو

چې د ګيدړ په بے وسئې مو متلونه ترل
همدرده هغه تيتې سترګې مې جانان اوليدو

# غزل

کله یو خواه کله بل خوا ، مثال دي دَ مرغۍ دے
دیدن یسې دي ژاړم ، خفه مې خپل زړګې دے
زړهٔ دي بیخي خیر کړم دا دي کوم عدل و انصاف دے
د ظلم خو یو حد وي ، خو ستا هر ظلم آخرنۍ دے
زما زړهٔ کښې اوسیږي دغه زړهٔ دي لکه خپل دے
زړګې مې ستا غلام دے ، تابع ستا د مرضے دے
ګلونه خو جانانه په سپرلي راتلو تازه شي
ستا مخ هر وختې تازه وي ، چې دي دور د ځواني دے
ستا یو خندا جانه د مئین د ژوندون ساه وي
ستا پرې څهٔ کمیږي ، خو سوال زما د زندګي دے
اوښکې مې د سترګو چې بهیږي علامه مې د بیلتون ده
تن یاره همدرد خفا دستا په جدائي دے

# سندره

رانه خفا چې نهٔ شي کله دَ بل چا يمه
اوّايه ، اوّايه جانانه چې زهٔ ستا يمه
زما ځيګر اؤ زما زړهٔ ئې
په خيال او خوب کښې مې اودهٔ ئې
تا کښې مې ساه ده هم دا ستا په مينه پايمه
اوّايه ، اوّايه جانانه چې زهٔ ستا يمه
زما سکون زما قرار ئې
د سترګې ژوند مې انتظار ئې
که ساه مې وځي مخکدن کښې به هم وايمه
اوّايه ، اوّايه جانانه چې زهٔ ستا يمه
زما ماښام زما صبا ئې
زما آسمان زما دنيا ئې
ستا په خوبونو کښې اوسيږم شهزاده يمه
اوّايه ، اوّايه جانانه چې زهٔ ستا يمه
همدرد ستا په نوم ځليږم
بې لتا کله پاتې کيږم
چې يم تر عمره به قائم په دې سودا يمه
اوّايه ، اوّايه جنانه چې زهٔ ستا يمه

# غزل

چیه خلۀ مې الزامونو ته ځواب دے
زړۀ چاودون مې ستا غمونو ته ځواب دے

آئینه لکه په پټه خلۀ وئیل که
رود د اوښکو مې غمونو ته ځواب دے

زوړ ، ژړا د یار منت مې څۀ کولو
ځواني خپله ارمانونو ته ځواب دے

په آزاد وطن کښې خوښ ومه ملګرو
ناشکرې مې سخا جنګونو ته ځواب دے

# سندره

کله راته مینه وائي کله راته زړهٔ وائي
وړاندي راته ښه وائي روستو به چي څهٔ وائي
کله راته وائي چي تاته به درنشمه
کله راته وائي چي تاپسي ړنده شومه
ډېره په ما ګرانه ده بد وائي که ښهٔ وائي
وړاندي راته ښه وائي روستو به چي څهٔ وائي
ډېره که دا اوغواړي هيڅ هم پټوئي نشي
خيال کښي ئي غړېږي تل ځان کښي تمکوئي نشي
هيڅ هم په ځُلهٔ نه وائي سترګي ئي هر څهٔ وائي
وړاندي راته ښهٔ وائي روستو به چي څهٔ وائي
ورشه تپوس وکړه څوك دي يادوي که نه؟
غټو غټو سترګو نه خوب دي تښتوي که نه؟
همدرد دي يو ارمان زما ، دا به چپه ځُلهٔ وائي
وړاندي راته ښهٔ وائي روستو به چي څهٔ وائي

# سندره

لیونۍ چې راته وائي لیونۍ یم په رښتیا
په مینه کښې دا ستا ، په مینه کښې دا ستا
په سرو غرمو روان یم
دَ مینې قدردان یم
که سمه وي که غر وي که دښته وي صحرا
په مینه کښې دا ستا ، په مینه کښې دا ستا
چې ځان له شم اوتر شم
په سمه شم په غر شم
بیا لیونو په شانې ګرځم سربېر زَهٔ په بیدیا
په مینه کښې دا ستا ، په مینه کښې دا ستا
په ویرانې کښې مې زړهٔ لګي
آبادئې سره مې نهٔ لګي
کاش چې زَهٔ اوُ یار وي زمونږ بیله وي دنیا
په مینه کښې دا ستا ، په مینه کښې دا ستا
بې سوچه کړم خبرې
تهٔ تښتې راته لرې
همدرد شوم زَهٔ دا خلقو نه جدا
په مینه کښې دا ستا ، په مینه کښې دا ستا

# سندره

ستا دَ یاد ورېمو سره زړهٔ مې تازه کیږي
پرخه دَ سحر لکه په ګلو چې وریږي

ستا خوارو سوچونو سره کښې ځان خاندېږمه
خلق داسې وائي چې زهٔ لیونے کیږمه
دَ مینې په خوږلت باندې بې مینې څه پوهیږي
پرخه دَ سحر لکه په ګلو چې وریږي

ستا په جدائي کښې زهٔ د ګل سره لوبیږمه
چې پاڼه شوکومه ترې د شونډو دې شرمیږمه
ستا دَ انګو سرخي په ګل کښې راښکاریږي
پرخه دَ سحر لکه په ګلو چې وریږي

ستا کاجل په سترګو کښې اوښکې تویوي زما
شور دَ سپینو لیچو دې خوبونه تښتوي زما
شپه ده په اوږدو یاره کله صبا کیږي
پرخه دَ سحر لکه په ګلو چې وریږي

زه همدرد بیتاب یمه هیله دې راتلو کووم
ستا نه ګیله من یمه ستاینه دې یادو کووم
راباشي که زړهٔ دې جانانه ما باندې خوږیږي
پرخه دَ سحر لکه په ګلو چې وریږي

# سندره

جوړه جوړه غمونه چې په ما باندې راغې
بیلتون مې ستا جانانه په سرو سترګو ژړوي

څۀ ښکلې مازیګر وي
ښائسته غونډې منظر وي
ډوبیدو باندې چې نمر وي

څولحه څولحه د یو بل دیدنونه ډکوي
بیلتون مې ستا جانانه په سرو سترګو ژړوي

سرې سترګې په ژړا یم
په غم دې وار خطا یم
چې ستا نه زۀ جدا یم

په مخ مې اوښکې قطارونه جوړوي
بیلتون مې ستا جانانه په سرو سترګو ژړوي

دَ هجر تورو شپو کښې
خوږو خوږو سوچو کښې
دَ مینې په ترخو کښې

ستا خیال مې تصور کښې ارمانونه ځنګوي
بیلتون مې ستا جانانه په سرو سترګو ژړوي

يو تهٔ چي بس زما وي
ښائسته به مي دنيا وي
دا چا مي څهٔ پرواه وي

همدرد دي په خپل زړهٔ کښې هميشه به يادوي
بيلتون مي ستا جانانه په سرو سترګو ژړوي

## رباعي

نه کميږي مے ، ساقي ډك كه جامونه
راکوه زرشه ، زياتيږي مي غمونه
په دي طمع ميخاني لره درځمه
ګوندي وشي د خفا يار ديدنونه

# سندره

په ما راغلي بې حسابه نن غمونه ساقي
د خدائې د پاره راله راكړه ډك جامونه
رحم په ما اوكړه تهٔ گوره چې انكار اونكړې
د غمازانو په خلهٔ گوره چې اعتبار اونكړې
ستا به نوكر شم زهٔ كرم به خدمتونه ساقي
د خدائې د پاره راله راكړه ډك جامونه
موړ مې په مے چې ارمان مې د زړهٔ پاتې نهٔ شي
چې مستي راشي اؤ جانان مې په زړهٔ پاتې نه شي
چې درته اوخاندم تازه مې شي وختونه ساقي
د خدائې د پاره راله راكړه ډك جامونه
دا ستا د پاره انتظار كښې مې لمحې تيرې شوې
دا ستا د غمه په بدن مې سرې لمبې تيرې شوې
ځكه چې بند وو په همدرد باندې گوټونه ساقي
د خدائې د پاره راله راكړه ډك جامونه

# سندره

او مې غواړه خپل مې که
مینه کښې پاګل مې که
ځان ته مې نږدې که ته
مړو سترګو کښې کاجل مې که

وچیره دَ زړهٔ رباب ، ورګه خاموشۍ به شي
تهٔ به هم خوشاله شي ، هر خواه خوشالي به شي

زړهٔ مې که ګوګل مې که
په سرو شونډو غزل مې که
ځان ته مې نږدې که ته
مړو سترګو کښې کاجل مې که

زهٔ دستا مئین یمه ، تهٔ زما دَ سترګو تور
ستا دَ اوربل ګل یمه ، تهٔ زما دَ زړه پټکور

ستا دَ جبین خال یمه
ګل دَ خپل اوربل مې که
ځان ته مې نږدې که ته
مړو سترګو کښې کاجل مې که

ما همدرد په تا پسې ، خپل ژوندون لیکلي دي
نهٔ لرم پرواه دَ چا ، ځان مې دربخښلي دي

سترګو کښې نظر مې که
مل مې که اؤ خپل مې که
ځان ته مې نږدې که ته
مړو سترګو کښې کاجل مې که

# سندره

خلق پرې هسې بیوفا ګمان لرینه
دومره ظالم نه دے چې ما به زورورینه
ما خو پخپل جانان باور دے
که دَ چاړو په څوکو لار وې رابه شینه
یار مې دَ نورو نه جدا دې
مینه په زړه کښې حیا سترګو نه لارینه
هر وخت ئې مونږ په دیدنونو وم
چې کله ورته وائم خواه له مې راځینه
خلق په حلهٔ ګوته ولاړ دي
بختور دي څوك چې داسې یار لرینه
دَ کمال ستا نه دے همدرده
په دې پوه شه زوراوره پاکه مینه وینه

# غزل

هر سرے پسې بې شانه سرګردان دې
هغه دین دے که دنیا ده که جانان دے

د یوه لمحې ژوندون به آخر تیر شي
تنور کړې دې په ځان دا درست جهان دے

لویه خدایه ستا په واره کائنات کښې
ما راوړې محبت باندې ایمان دې

دا منم چې په وطن مې غریبي ده
ماته دشت د خپل وطن هم ګلستان دے

چې اثر د دنیا د رنګینو وانخلي
اے همدرده ، سادګې کښې ژوند اسان دے

## غزل

ځان به درلوګے کړمه که سپوندې سپیلانې نشته
په ما باور کړه چې مې مینه کښې ټګې نشته

وخت په وخت موسم غوندې د زړونه هم بدلیږي
خو زهٔ سدا بهار یمه د مینې ما کښې تبدیلي نشته

څوك څهٔ لرې پرواه زما د خوږ زړګي دردونو
چې د اوښکو مې په سترګو کښې غمې نشته

اوس په سترګو کښې ستونه دې بیکار دې زما یاره
زړهٔ اؤ ځان به درله درکړم خو حیف دا چې ځوانې نشته

دا په ما د مینې زور دې چې ژاړیږم کله خاندم
د ښو بدو مې ځان کښې نوره څهٔ خوبې نشته

لږه چې معلومه مې شي مینه ته مې ځان نزدې کړه
اور بل دے د ګوګل دننه په ظاهره څهٔ لوګې نشته

ن که ستا قدر ئې اونکړو همدرده بیا به شي
که دنیا دریسې چاڼ کړې پوه شه ستا سیالې نشته

# غزل

زۀ نۀ پوهیږم چې نور څۀ اولیکم
د زړۀ خبره به په زړۀ اولیکم

د تماشبینو د خانده به شمه
څۀ نۀ کمیږي که څۀ نۀ اولیکم

پرېږم سترګو ته دې نشم کتے
څکه په شعر کښې به باڼۀ اولیکم

خوږ د مینې څۀ وخت پاتې نۀ دے
څۀ به صفت د ګل اؤ غړۀ اولیکم

اوس په لاس کښې یو قلم دې پاتې
د ستا یادونه به زاړۀ اولیکم

خوږو خوږو کښې مې نظر همدرده
چې څان ته ګورم بیا تراخۀ اولیکم

